

## د اوسني مخکښ شعرو ادب ټولپېژندلی استازی

## ښاغلی او منلی عبدالغفور لېوال

## مرکه وال : انجنیر عبدالقادرمسعود

# (دویمه برخه)

پوښتنه: استادپوهاند زیا ر شعري ځانګړتیاوې په دووټولیویامقولوکې رانغاړي، چې یوه((ژب- ښکلا ییزه)) بولي او بله((ژب- اندیزه)) او کله نا کله یې پرځای ((ټولنیز او هنري ارمان)) نوموني هم کاروي، تاسې پکې څه ویاست؟

ځواب: پخوا ؛ ژبه ، په ادبیاتو کې دهغو توکیو ټولګه ګڼل کېده ، چې فکر لیږدوي، په دې وروستیو کې دا نظر بدل شوی دی، لومړی په شعر کې بیا وروسته په نورو هنري ادبیاتو( لکه داستان ، نندارلیکونو ، طنزاونورو) کې پخپله ژبه دیوې هنري ښکارندې په توګه وپیژندل شوه . همداچې تاسو دیوه مفهوم لپاره دکلیماتودکارولو دټاکنې وس لرئ ، په دې مانا ده ،چې ژبه یوازې وسیله نه بلکې پخپله هنري هدف دی . زما په نظر دشعر

ژب ـ انديزه ځانګړتيا همدا ده ،چې ژبه دشاعر دفکر دلېږد بار پرغاړه اخلي او يا په بله وينا دفکردوړاندې کولو لپاره په کارګومارل کيږي ( استخداميږي ) . خو ژب ـ ښکلاييزه ځانګړتيا يې دا ده ، چې ژبه دفکري لېږد ترڅنګ پخپله ديوه هنري ـ ښکلاييزپسول په توګه وکارول شي. دا ګام دشاعر کاريوه پوړئ نورهم پيچلی کوي اوهغه دکليماتو دسمي ، دقيقي اوله ستيتيکي پلوه د په زړه پورې ټاکنې ربړه ده ، چې بايد ويې ګالي. ما پخپله يوځل له خپل قدرمن استاد زيار سره په دې اړه خبرې کړې دي، چې په شعر کې څنګه د سېمبوليکې ژبې کارول تر دې بريده پرمخ ځي ، چې ويلی شو يوه نوې ژبه رامنځته کيږي ، هلته چې هره کليمه ترخپل مخامخ مفهوم ورهاخوا ديوه بشپړې ذهني ټولګې استازيتوب هم کوي ، نو دهمدې لپاره په شعر کې دژبې دهنري کارونې هڅه خورا مهمه ده ، په پښتو اوسمهالې شاعرئ کې داسې هڅه اروانښاد ننګيال راپيل کړه او درويش و کاروان وغځوله ، چې ځوان کول يې په نور دقت او نويو ځانګړنو لاپسې پالي.

پوښتنه: نن سبا په شعر کې ترعيني انځورونو پر ذهني انځورونو ډېر ټينګارکيږي، که تاسې له دې ليدتوګې سره همغږي ياست، نو دک و دليل يې راڅرګند کړئ!

ځواب: دذهني انځورونو ګڼه ګونه دشعرمخامخ درک ستونځمن کوي ، ذهني انځورونه کله کله هغو کړيو ته ورته وي ، چې په اوبو کې دکاڼي له غورځولو څخه راپيدا کيږي او هرکله يې چې تاسو ديوه انځور دپرانيستلو هڅه وکړئ ، بل راځي او بيا پسې بل ، نو دهمدې لپاره يوازې پر ذهني انځورونو تکيه کول دشاعر په تاوان دی، همدا رازيوازې دعيني انځورونو کارونه هم شعر دعکاسۍ په يوه نندارتون بدلوي ، په زړه پورې به داوي ، چې عيني او ذهني تصويرونه په يوه بشپړ هارمونيک بافت سره وکارول شي ، البته دلته به دا يادونه نه هيروو ، چې دڅومره والي او څرنګوالي له نظره دهرراز شعري انځورونو ( که ذهني وي ياعيني ، حسي او يا رواني ) کارونه په دې پورې اړه لري ، چې شعر څه ډول منځپانګه لري ؟ يا شعر څه غواړي ووايي ، دشعري پيښو بستر يا ترشا فضا څه ډول ده ؟ دې ټولو ته په کتلو سره ، دا به سخته وي ، چې شاعرانو ته ليکلې نسخه ورکړو ، چې څومره عيني اوڅومره ذهني انځورونه دې وکاروي ، مګربياهم په شعر کې دعيني انځورپنځوونې اوذهني انځورونو تر منځ يوخوځند او متناوب خوځښت شعر په زړه پورې کوي .

پوښتنه: ارسطو وايي: (دشاعر وظيفه د اسطورې جوړول دي). ستاسې پر آند شعر له اسطورې سره څه اړيکې لري، او په پخوانيواواوسنيو پښتوشاعرانوکې د کوموښاغلو او اغلو په شعرونو کې د اسطورې ونډه زياته ده ؟

ځواب:

اسطوره له (اسطار، اسطاره، اسطير، اسطيره، اسطور، اسطوره) څخه جوړه شوې ده «سيوطی» فکر کوي چې اسطورې داسې يو جمع نوم دی، چې مفرد نه لري خو ابوعبيده وايي چې اساطير د اسطاره جمع ده. په هر صورت ،ادبي دايرة المعارف اسطورې هغه خرافي يا نيمه خرافي افساني او کيسي بولي چې د مافوق الطبيعيه ځواکونو په اړه نسل په نسل را پاتې وي.

دا په دې مانا چې اسطورې د پخوانيو انسانانو له عقايدو سره اړه لري.

په يوناني ژبه اساطيرو ته (Mythos) ويل کېدل Mythos د خلکو ترمنځ د افسانو هغو منظومو بڼو ته ويل کېدې، چې د مذهبي او ديني مراسمو په لړ کې به د خلکو په منځ کې ويل کېدې.

دا کټ مټ د (Logos) په مخامخ ټکي کې چې د عقل او پوهې مانا يې لرله کارېده، چې تر ډېره بريده يې له وهم او خيال څخه را پنځېدلې ګڼلې.

هم تراژيدی لکه (پاچا اوديپ او پرومته)، هم حماسي لکه( ايلياډ او اډيسې) او آن غنايي منظومې لکه آشيل او اوليس هغه مشهورې اسطورې دي، چې هم په خپل جوړښت کې ګڼ سېمبولونه لري او هم وروسته پخپله په سېمبولونو بدلې شوې دي. د بېلګې په توګه پاچا اديپ لا تر اوسه په ادبياتو او رواڼپوهنه کې د هغې عقدې سېمبول دی ،چې اولادونه يې د والدينو په وړاندې لري. په دې توګه وينو چې په شعرونو کې د سېمبولونو اسطوره يي ونډه له پخوا څخه مهمه او د پام وړ وه.

اسطورې دخلکو له عقيدو او باورونو سره اړيکي لري ، هرکله چې خلک پر يوه شخص ، پيښه يا روايت باندې باوروکړي او دهغوی په وړاندې داتلولی ( منفي يامثبت) کچې ته پورته شي نو اسطوره کيږي . په شعر کې اسطورې دوه ډوله کارېږي ، يوداچې شاعر غواړي دخپلې مدعا دزباتولو لپاره له اسطورو څخه مرسته وغواړي ، خوشال بابا فرمايي :

شور او شر به د (رانجا) په جهان نه و

که د (هير) صورت پيدا نه وای په شور کې

که خبر د (درخانۍ) له مخه نه وای

(آدم خان) به ځنې څه غوښتل په کور کې

دا داسطورو شهادتي کارونه هم بللی شو. په شعر کې داسطورو بل تبلور دادی ، چې یو شاعر په خپل اثر کې اسطوره رامنځته کړي ، یایې داسطوره کېدو دريځ ته ورلوړه کړي ، میوندی ملالې په خپله لنډی کې دمیوند له وچې دښتې څخه اسطوره جوړه کړه :

که په میوند کې شهید نه شوې

خدایږو لالیه بې ننګی ته دې ساتینه

فردوسي له رستم څخه اسطوره جوړه کړه او داسې نور . په پښتنو کلاسیکو او معاصرو شاعرانو کې ګڼو شاعرانو دخپلو مدعاوو دزباتولو لپاره له اسطوروڅخه مرسته غوښتې ده یا ؛ داسطورو دشهادتي کاروني ډيرې بېلګې لرو، خو په لږو بېلګو کې داسطوره پنځولو هڅې شوې دي ، پوهاند بهاالدین مجروح په ځانځاني ښامارکي دنفس ښاماري هویت اسطوره يي کړی دی . او زما حقیر په دريګونو منظومو کې داسطوره پنځولو هڅې دیادولو وړ دي .

پوښتنه: په اوسنیو کړکیچن او تراژیک اکر بکرکې د پښتو شاعرانو له خوا د اسطورو د پنځولاو جوړولو په تړاو څه لید لرئ؟

ځواب: ولې نه ؟ موږ په خپل تاریخ ، ملي هویت ، ګډو ارزښتونو اواړتیاوو کې ډېر څه لرو ، چې اسطوره یې هویت موندلی شي ، هر هغه اتل چې دافغانستان دجوړولو او دافغان انسان دهوسایینې لپاره یې هڅه کړې وي ، ښايي اتلواله یې تر اسطوره یې بریده ولمانځل شي. دا خلک دي ،چې خپل ریښتیني اتلان اسطوره کوي او شاعران ورته تلپاتې هویت ببښي ، داکارموږ هم کولای شو. غازي امان الله شاه دخپلواکۍ او پرمختګ اتل ، ډاکټر عبدالوکیل د کرنې اتل ،باچاخان دیوې مدني معقولې مبارزې اتل او هغه ناهیده چې ځان یې دمکروریانو له بلاکه راوغورځاوه ،خو دځناورو توپکوالو غوښتنې ته تسلیم نشوه ، ټول داسطوره کېدلو وړتیا لري .

پوښتنه: اوسني نوښتګر شاعران چې تاسې پکې هم راځئ، پراسطورو او بیا سیمبولونو ډېر زوراچوي، ایا دا د سیمبولېزم د ښوونځي ځرګندویی نه کوي چې تر مودرنېزم را وروسته د تېرې پېړۍ په شلمو کلونو کې لویدیځوالو رادود کړی دی؟

ځواب:

پخوانیو یونانیانو به د ختو یا ګچو یوه لیکلې لوحه ټوټې ټوټې کړه او پخپلو منځونو کې به يې وویشله چې بیا وروسته له یو بل سره د همدغو ټوټو د بیرته سره یو ځای کولو له لارې وپېژندلای شي او یا هم د خپل ګډون د نښې په توګه به يې له ځانه سره ساتله. یونانیانو همدغې لوحی ته سوم بولون (Sumbolon) ویل. او د سیمبول (Symbol )

اوسمهالې نوم هم له همدغې يوناني ريښې څخه اخېستل شوی دی. په ادبياتو کې د سېمبول ځانګړی اهميت هغه وخت ډېر د پام وړ شو، چې په نولسمه ميلادي پېړۍ کې د سېمبوليزم ادبي مکتب رامنځته شو.

دغه مکتب د نولسمې پېړۍ د پای په لسيزو کې د دريېو سترو شاعرانو هر يو ه شارل بودلر (Charles Baudelaire)( ۱۸۲۱- ۱۸۶۷)، آرتور رمبو (Arthur Rimbaud) (۱۸۵۴- ۱۸۹۱) او ستفان مالارمه (Stephan Mallarme) (۱۸۴۲- ۱۸۹۸) له خوا مطرح شو، دغو دريېو واړو شاعرانو د اروپا په معاصره شاعرۍ کې يو د پام وړ بدلون راوست. همدوی د ( نوي شعر) د پېلوونکو په توګه هم ګڼل کېږي،(۳) که څه هم تر دوی وړاندې نامتو امريکايي شاعر ادګار الن پو (Edgar Allan Poe) (۱۸۰۹- ۱۸۴۹) په شعر کې د نويو سېمبولونو کارونه لوړې څوکې ( اوج) ته ورسوله، ترديې بريده ،چې د اروپايي سېمبوليزم پلار شارل بودلر د هغه (پو) له اثارو سره د بې کچې مينې له امله د هغه يو شمېر شعرونه او کيسې فرانسوي ته وژباړلې

په اوسمهالې پښتو شاعرۍ کې د سېمبولونو ( په تېره بيا د نويو سېمبولونو) د کارونې يوه نوې څپه هغه مهال له ورايه را څرګنده شوه چې پښتنو شاعرانو د نړۍ له نويو ادبياتو سره مخامخ اړيکه ومونده.

ښايي همدلته يې څرګنده کړم، چې دا هڅه يوازې سېمبولونو ته د ځانګړي او آګاهانه پام اوښتلو تر بريده نه، بلکې په شعري زمکه کې له سېمبولونو څخه د ګټې اخيستلو د تاکتيکونو تر زده کړې پورې د پرمختګ څپه وه.

پښتو شعر ته د سېمبول له نوې زماني څخه يې که را پېل کړو نو د افغانستان په ادبي حوزه کې استاد بېنوا، سليمان لايق، استاد الفت، بهاالدين مجروح او نور نيو کلاسيکان يې پيلوونکي دي اوپه پښتونخواه کې بيا دا لومړيتوب د غني خان او امير حمزه شينواري نومونو ته وررسيږي. ياد شويو شاعرانو د خپل مهال په داسې يوه هنري – سياسي او ټولنيز پېر کې شاعري کوله، چې د ښکلا او هنر تر څنګ يې په شاعرۍ کې تعهد او ژمنتيا هم پاللـه، له غني خان پرته نورو يادو شاعرانو ډېر ځله سېمبولونو ته دنامخامخ ارائيې لپاره پناه وړله.

د نويو سېمبولونو په رامنځ ته کولو کې ښايي هڅه وشي مناسب چاپېريال ورته جوړ کړای شي د همداسې يوه چاپېريال په مرسته کولای شو سېمبول ته عموميت او د قراردادي کېدو توان وروبښو. اروابناد اسحق ننګيال داوسنۍ پښتو شاعرۍ هغه څېره ده چې دګڼو نويو سېمبولونو په رامنځته کولو کې يې بريالۍ بېلګې پريښي دي او تر ده

راوروسته په ځوانو شاعرانو کې ډېربریالي شاعران شته ، چې ستاسو په ژبه دموډرن سېمبولیزم استازیتوب کولای شي.

پوښتنه: دا راته ووياست، چې لویدیز ادبي اوهنري ښوونځي پرکومو بنسټونو رامنځ ته شوي دي او د تاریخ په اوږدو کې يې پرلویدیزاو ختیز ادب څه اغیز ښندلای دی؟

ځواب: لویدیز ادبي ـ هنري ښوونځي د ټولنیزو ، اقتصادي ، سیاسي ، فکري ، فلسفي اوراوني بدلونونو په پایله کې له هغو اوښتونونو ، نوښتونو او ګډو تجربو څخه رازیږیدلي دي چې دنوښت پلویانو به رامنځته کول او یوشمېر پلویانو به وريسي پالل، دبېلګې په توګه رومانتیسیسم دفرانسې له انقلاب څخه الهام اخیسته ، ددې ښوونځي پلویانو، انسان داخلاقو ، قوانینو ، عقایدو او عواطفو په بوږبوکې کې سرګردانه لیده ،چې څنګه خپل رومانتیک ارمانونه دټولنیزو مصلحتونو په خاطر له لاسه ورکوي او په پایله کې ټولنیزقراردادونه او تپل شوي باورنه هیڅ هم نشي ورکولای. دفرانسې دانقلاب په پير کې اروپا دقانون ماتووني اوګډوډيو شاهده وه . ریالیزم تر ډېره بریده د چپو ایډیالیستانو له خوا پالل کېده ، هغوی ویل چې دعاج په ماڼۍ کې دتخیلي مدینه فاضله جوړول ناممکنه ده او موږ باید خپل چاپیریال ته ورووځو او خپل اتلان دکوڅو له محروموانسانانو څخه وټاکو ، هغه کارلوښي ولمانځو چې دانسانانو په ورځني ژوند پورې اړه لري او له اوهامو څخه ځان خلاص کړو. سېمبولیستانو ، چې هرڅه ته بدبینه شوي وو، فکر کاوه چې حقایق ورڅخه ځان پټوي یا یې څوک ورڅخه غلاکوي ، دوی داشیاوو او ښکارندو په سیورو ( دوهمه او دربیمه تداعۍ ) پسې کرځېدل او دخپلو ایډیالونو دپېژندلو لپاره یې سېمبولونو ته پناه وړه . اګزیستنسیالیستانو فکر کاوه ،چې انسان پرخپلواکۍ محکوم دی او باید خپل ماهیت پخپله وټاکي ، دوی چې د دوو لویو ( نړیوالو ) جګړو ترمنځه له وحشت لیدلي او ارادې بایللي اروپایي انسان سره مخامخ شول ، په دې هڅه کې شول ،چې انسان دخپل برخلیک پر ټاکلو یابدلولو باوري کړي ... په دې توګه ګورو ، چې لویدیز هنري ـ ادبي مکتبونه دتاریخي بدلونو په پایله کې رامنځته شوي دي او تر ډېره بریده يې لویدیز هنر او ادبیات بدل کړي ، وده یې ورکړې او رنګارنګي یې وربښلې ده مګر ددغو ښوونځیو اغیز ختیز اوپه تیره بیا افغاني ادب او هنر ته وروسته لاره کړې ده. ویل کیږي ، چې تورکانو ختیځ ته دلویدیزو ادبي ـ هنري ښوونځیو ځانګړتیاوې راولیږدولې ، خو په نولسمه او شلمه پیړۍ کې چې دلویدیځ او ختیځ ترمنځ واټن لږ شو دهنري ـ ادبي تجربو لیږد هم نوي اړخونه ومونډل. ښکاره ده چې پراوسمهالیو هنرونو او ادبیاتوباندې دغه دوه اړخیز اغیز ډېر پراخ دی او نوې تجربې ددواړو حوزو ترمنځ ګډې دي .

پوښتنه: پوهاند زيار په خپل بدلمېچ(۲۶۱- ۲۶۴مخ) کې هغه ګرد ترنګونه(ترکيبونه) چې استاد غضنفريې شعري ترنګونه(ترکيبونه) بولي، ژبني او بيا نحوي ترنګونه نوموي. پوهاند صاحب په نورو ليکنو کې هم پر دې ټينګار کړی چې د شاعرانو له خوا را منځته شوي يا رامنځته کېدونکي مجازي او استعاري ترنګونه تر هرڅه له مخه ژبني او بيا په نويزونو (نيولوجيزمونو) کې راځي. هرګوره د شعري يا هنري انځورونو رغنده ټوکونو(متشکله اجزاوو) په توګه د جملو دننه څېړل کېدای شي، تاسې پکې څه وياست، هسې خو د بلې هرې ژبې په څېر په ګړنۍ پښتو کې هم ورته ترنګونه شته، لکه (د)کاروان ستورى، د سبا سترګه، د لمر سترګه، د بوډۍ ټال، سپېده چاود، سپين سبا يا ګهيځ...؟

ځواب: لومړى ، خو داچې په شعر کې دژبې کارونه دنوې ادبي تيورۍ پربنسټ خورا مهمه ده ، مانا داچې نورنو ژبه دادبياتو ، په تيره بيا شعر، لپاره يوازې دخامو موادو حيثيت نلري ، بلکې پخپله ديوې هنري ښکارندې په توګه پېژندل کيږي دشعر ژبه ځانګړې ده ، رضا براهني فکرکوي چې په شعر کې اشيا نوی هويت مومي ، ځکه خو يې تمثيل هم يوې ځانګړې ژبې ته اړتيا لري ، سارتر فکر کوي ، چې شاعرانه ژبه ځانګړې ده ، له همدې پلوه هم ده چې شعر تر ادبياتو ډېر دهنرونو دکورنۍ غړی دی، ځکه په شعر کې ژبه وسيله نه بلکې هدف دی. دوهمه دا چې شعري ترنګونه بېشکه چې ژبني ترنګونه هم دي ، خو دژبنيو قوانينو په مرسته يوازې دشعرلپاره استخداميږي او کيدای شي په هماغه جوله او مانيز جوړښت سره په نثر ( او آن ناهنري منظوم کلام ) کې دکاريدلو جواز ونلري. په شعر کې دژبنيو ترنګونو رغښت استعاري ، تشبيهي ، سېمبوليک او ګردسره انځوريز بستر لري او دکارولواو منلو منطق يې هم درغوونکي او مخاطب (مصرفوونکي) ترمنځ ديوه هنري قرارداد پربنسټ دمنلو وړدی. هېڅ شاعرانه ترکيب له خپلې هنري زمينې پرته منښت اوښکلا نشي درلودلای.

پوښتنه: ستاسې له انده د ادبي سبک اومکتب پېژند(تعريف) څه دی، او يو ادبي سبک او ښوونځی څنګه منځ ته راځي او څنګه له منځه ځي؟ ولې په وسمهال پيرکې دغه لېلې لارې نه رامنځته کېږي. که دا ريښته ياحق څوک نه لري؟

ځواب: هيڅ داسې ملي يانړيواله محکمه نشته ،چې دسبکونو يا مکتبونو دريښتې ورکولو وس وصلاحيت ولري. سبکونه او مکتبونه رامنځته کېدل ، رامنځته کيږي او رامنځته کيږي به . دادهنرمند په خلاقيت او زماني پورې اړه لري اودا خلک دي ، چې ديوه سبک يا مکتب هرکلى کوي او په رسميت يې پيژني ، ډيرځله ځينې مکتبونه دخپلو بنسټ اېښودونکو له زماني څخه لسيزې بلکې پيړۍ وروسته پيژندل يامنل کيږي. دامشهوره ده ، چې لومړني سيمبوليستان لکه بودلر، مالارمه او رمبو هم خلکو ليوني بلل. هرکله چې

دګنو خلکو شعوري ـ رواني برید له هنرپنځوونکو سره همهاله شي نو پلویان مومي . په پښتنوکې غني خان دځانګړي سبک خاوند و، دهغه دشعرونو مینه وال دهغه تر خپلې زمانې اوس ډیر دي. سبکونه په وړه محدوده کې دبیان یا ارائیې په ډول پوري اړونده نوموونه ده ، خو مکتب دمنځپانګې ، فکري یا رواني همرنګۍ یوه پراخه ټولګه ده ، چې څو نسلونه یې پالي او بشپړوي یې .

پوښتنه: نوی آزاد، سپین او ناپیلی شعر له کلاسیک شعر سره څه توپیر لري؟ یو شمیر شاعران پر دې ګروهه دي، چې سپین یا آزاد شعر په پښتو ادب کې له ډیر پخوا څخه شته وو. تاسې په دې اړه څه لید و اند لرئ او دا راته وویاست، چې دآزاد او سپین شعر سوچ دچاله خوا چیرته او څرنګه را پیدا شو او همدا پوښتنه چې په پښتو او پارسی کې دغه نوموني له لویدیځ هغو سره څه توپیر لري؟

ځواب :

په فرانسه کې آزاد شعر د سیمبولیزم د مکتب همزولی ګڼل کیږي او پیل یې دنولسمې پیړۍ دپیل کلونه دي . د فرانسوي آزاد شعر ځانګړنه داوه چې د وزن لړونکو خو نابرابرو کلامي برخو یوه مجموعه به داسې لیکل کېده چې د کالب تر و حدته ډېر د فکر او انځورونو وحدت او جوړښت ته په کې پام کېده. په دې شعر کې کلېماتو پخپله سیمبولیکه مانا بښندله، سپین شعر په حقیقت کې هماغه هنري نثري لنډې لیکنې وې ،چې موږ یې دلته ادبي ټوټه بولو ، په اروپایی ژبو کې دغواهنګینونثرونو په تول پوره دشعر ځانګړتیا درلوده یوازې توپیر یې له آزاد شعر سره دا و ، چې کلامي واحد یې یوه بشپړه غونډله وه حال دا چې په شعر کې ډېر ځله نحوي جوړښت نه ،بلکې انځوریز جوړښت دکلام واحد ګڼل کیږي. په پارسي کې نیما یوشیج دخپل وخت دود  وزني کالبونه مات کړل او نیمایي اوزان یې رامنځته کړل، دنیمایي اوزانو ځانګړتیا داوه چې دبحرونو دشمیر له مخې دبیتونو او مسرویه اوږدوالي او تناوب کې بدلون راته ، او ډیره ځله به قافیه دسره توپیر لرونکو وزني واحدونو تربېلابیلو شمیرونو وروسته تکراریده، نیمایي کالبونه ، چې دقافیې له تکرار او رعایته خلاص شول آزاد شعر وګڼل شو او کله یې چې ټاکلی وزن هم پرېښود سپین شعر وګڼل شو، خو سپین شعر هم آهنګ ته اړتیا درلوده او په دې توګه یې خپل مترنم جوړښت وساته . په پښتو کې داسې کالب ماتوونه پوهاند عبدالحی حبیبي ته منسوبه ده ، یاد استاد پرکال ۱۳۱۵ لمریز، په  هندکې یو شعر لیکلی :

دکور قاصده

راته ووایه

حال دیارانو

دوطن خپل

وما پردیس ته حال راښکاره کړه

د دلدارانو

دوطن خپل ...

فاضل استاد پخپله هم لیکلي دي ،چې دا یو نوی ډول شعر دی. تر ده وروسته دآزادشعر پالونکي : استاد پژواک ( په تیره بیا په کلیمه داره روپۍ منظومه کې ) ، استاد بینوا ، استاد بهاالدین مجروح، سلیمان لایق، غني ، شپون ، الهام اوپوهاند زیار دي البته په نوي نسل کي دآزاد شعر دګنو مانیزو او جولیزو تجربو پیاوړی نوښتګر اروابناد ننګیال ، عارف خزان او یوشمیر نوردي . دسپین شعر یو شمېر لومړنۍ بېلګې هم دارواښاد ننګیال دي ،خو په دې توپیرچې دهغه پرذهن حاکم وزني تمرین شعر مترنم ساتلی دی او ښايي دادپښتو شعر ځپیز ـ خجیز جوړښت وي چې د بشپړ سپین شعرپه لوی لاس لیکل پکې کار تصنع او تکلف ته رسوي . په دې توګه ګورو، پښتو شعر دخپل بدلمېچ پربنسټ آزاد شعر ډېر طبیعي او له خپلو ځانګړنو سره سم منلی او په هیڅ ډول ورته له کومې بلې ژبې څخه راغلی یې نشوګڼلای. یومهال ښاغلی صادق ژړک داسي کاکړۍ غاړې راته ولوستلې چې دازادشعر په توګه یې وزني بېدودي درلوده ، داسي ښکاري ، چې پخوانیو پښتو بدلو ، غاړو او نارو دیوډول لنډو آزادو ټوټو کالب درلوده ، ځکه خو په پښتو کې ددې ډول شعر لرغونتوب نه شو ردولای ، خو زما په نظر دا مسئله نورو څېړنو ته اړتیا لري .

پوښتنه: زموږ یوشمیراندیال او فرهنګیال پر دې ګروهه دي، چې په پښتوکې دشعر په پرتله باید نثر ته زیاته پاملرنه وشي. ستاسي پر آند دولسونوپه راوپښولواو د ملي ولولوپه راپارولو کې شعر زیات اغیز لري او که نثر؟

ځواب: هر ځېل خپل ارزښت لري ، شعر لیکل ، نثرلیکل، کره کتنه کول ، څېړنه او بله فرهنګي هڅه نجاري یا ختګري نده ، چې تاسو یې چاته دکولو یانه کولو سپارښتنه وکړئ ، ځکه دادېر په ذوق ، مینه او توان پورې اړه لري ، موږ هم ښه شعر ته اړتیا لرو او هم ښه نثر ته ـ هر څومره چې وي ـ خو چې ښه وي ، خلک یې خوښ کړي او هغه تولنیزاغیزولري ، چې له ادبیاتو او هنر څخه یې تمه کیږي . په افغاني تولنه کې شعر اومنظوم کلام له پخوازماني څخه ډېره مینه وال او اغیزدرلوده ،ځکه دلته تمثیلي او تجسمي هنرونو ته په ښه سترګه نه کتل کېدل ؛ تیاتر ، مجسمه جوړونه ، انځورجوړونه او آن موسیقي په ممنوعاتو کې ګڼل کېدل اوشعرومنظوم کلام ددې ټولو ځای ډکاوه ، حماسي ، ویرني، میني ، مذهبي متون ، اخلاق، او نور متون په نظم کې خوندي کېدل ،

دهمدې لپاره شعر او نظم دلته ژورې ريښې لري ، نثر تر شعره ځوان دی خو پاللو ته يې اړتيا شته ، نن سبا چې ذهنيتونه نوي شوي دي ،موږ نويو نثري ځېلونو ته اړتيالرو کيسي ، ننداراليک،طنز، فلمنامې، پورترې ، ژونداليکونه ، يونليکونه او نور ځېلونه ښايي دود او پياوړي شي ، خو دښې شعر ليکنې په قيمت نه، بلکې دښې شاعرۍ ترڅنګ .

پوښتنه: يو شمير ادب پوهان په سرکې بريتانيي ليکوال او شاعران نثر پرڅو ډولو ويشي، لکه: داستاني نثر، د ستايني نثر، څېړنيزنثر، د بحث او استدلال نثر او ادبي نثر. مهرباني وکړی په دې اړه په لنډه توګه معلومات راکړی؟

ځواب: همداسې يو ويش زموږ په ادبپوهنه کې هم شته ، هنري نثر ، انشايي نثر، علمي ـ څېړنيز نثر ، ښوونيزـ روزنيز( پيداګوژيک) نثراو ښايي نور. هنري نثر په ټوليزه توګه هغو ليکنو ته وايي ، چې له تخيل او ادبي ارزښت سره تړاو لري ، په دې کې داستاني ليکنې، ډرامې ، فلمليکونه ، او نورادبي ځېلونه ټول( له نظم وشعره پرته ) راځي.
انشايي نثر هغه دی ، چې موخه يې ديوه پېښليد ، نظر، فکرياحالت بيان وي ، دا نثر تخيلي نه وي ، خو کېدای شي دنثر ليکنې له ښکلاييزو او ادبي خوږلنيو څخه تومنه واخلي لکه : يونليکونه ، بيوګرافۍ ،فيچرونه او نور، له هنري نثر سره يې توپير دا وي ، چې موخه يې په ادبي ژبه دواقعيتونو او حقايقواړائيه وي او تخييل پکې ډېر ځای نلري.
علمي ـ څېړنيز نثر دساينسي او ټولنيزو پوهنو دزبات او ورپوهولو لپاره کارېږي.
ښوونيز او روزنيز نثرونه دپيداګوژۍ او ورزده کولو دپوهې له ارونو سره سم يو ځانګړی نثر دی، چې دخپلو مخاطبانو دپوهې او عمرله کچې سره سم ليکل کيږي. هېره دې نه وي چې دغه هر يو ډول بيا په نورو څانګو هم ويشل کيږي، چې فکر کوم دلته به يې دټولو ديادولو ځای نه وي .

پوښتنه: ويل کيږي، خوشحال خان خټک لکه څنګه چې پښتوشعراو نظم ښکلی او رنګين کړ، همدغسې په نثر کې هم ديوه داسې هنري نوښت بنسټ کېښود چې اوسنی پښتو ادب پرې وياړي. که تاسې يې له څومره ييز او څرنګيز پلوه پرهنري او ادبي نوښتونو يوه څرکنده رڼا واچوئ!

ځواب: خوشال بابا نه يوازې دا چې ددستارنامې په څېرد يوه شهکار نثري کتاب په ليکلو پښتو نثر د راونی ، ساده ګی او روښوالي په خوا ورلوړکړ ، بلکې ترځان وروسته يې پر نورو نثرليکونکيو هم ژور اغېز وکړ، چې يوه ښکاره بېلګه يې تاريخ مرصع ګڼلی شو، بابا له سجع ، ايطال او عربيت څخه دپښتو نثر تر تراشلو وروسته داوښوده ، چې يوڅه په هماغه ژبه چې ويل کيږي ، ليکل کېدای هم شي. البته دا لوی کار دځه ډول نثرليکنې په برخه کې و، خو د "هنري نثر" په اړه همدومره وايم ، چې د بابا کومه لويه او پاموړ

هنري نثري ښېلګه ما نده لیدلي ، ځکه موږ " په نثر کي هنري نوښت" داسې یوڅه ته ویلی شو لکه شکسپیر چې په انګریزي ادبیاتو کې رامنځته کړ.

پوښتنه: تاسې کال دوه مخکې خپل څو شعري دوترونه یا منظومې په یوه ټولګه (ته زما ټوله شاعري یې) کي خپاره کړې دي، که څه هم استاد زیار وربادنې پخپله کره کتنه کي پوره رڼا اچولي او تاسې یې د تیرو هیرو او نویو حماسو شاعربللي یاست. بیاهم زه غواړم، چې په اړه یې ستاسي خپل نظر هم ویوښتم او بیاداچې تاسې په پښتو ادب په تېره بیا په شعر کې د دغو حماسو اغیز څه ډول ارزوئ ؟

ځواب: ماته تر ټولو سخت کار دابریښي چې دخپلو لیکنو په اړه څه ولیکم یا څه ووایم ؛ (( ته زما ټوله شاعري یې )) زما دتیرو چاپ شویو شعري ټولګو، پینځو منظومو او یو لوی شمیر ناچاپو شعرونو یوه غوښنه ټولګه ده ، چې زما دځوانو ملګرو په همت راټوله ، تدوین او چاپ شوې ده، لومړی چاپ یې دښاغلي حسام او دوهم دایې داسد جان دانش په همت ترسره شو. ددې کتاب دراغونډولو او چاپ لپاره زما د مشرانو او ځوانو ملګرو تینګار دا و چې ګواکې زما پخوانۍ شعري ټولګې په تیره بیا درې لویې منظومې ورکې شوې وې او نورې نه پیدا کیدې ، دځینو پخوانیو کتابونو دچاپ کیفیت هم ښه نه وو او ځکه خو، ددوی په ژبه ، ګواکې زما بیچاره دشعرونو مینه والو ته باید ددې ټولو نوی چاپ وړاندې شي ، په هرصورت، دمنظومویه اړه زما د پیاوړي استاد زیارلیکنه او شننه دهغوی ذره نوازي ده . زما منظومې دتاریخ ، ادبیاتو ، اسطورو او هنر ترمنځ په یوه تخیلي زمینه کې لیکل شوي دي ، دمنظومو پلاټ (خاکه) جوړه شوې ده ( ښایي دهمدې لپاره یې استاد هېوادمل دحماسو دجوړښتي ویش له اړخه مصنوعي یا تخلیقي حماسې بولي ) ځینې اتلان ، ځایونه او پیښې یې له تاریخي روایاتو رااخیستل شوي دي او په ټولیز ډول زموږ دتاریخ داساطیري دورو روایتونه دي. له ماسره دداسې څو نورو منظومو دلیکلو لپاره هم یادښتونه او طرحې شته ، که لوی خدای ژوند او وس راکړ انشاالله چې وبه یې لیکم. هغه مهال چې ما دمنظومو دلیکلو لومړنۍ هڅې کولې ، ګومان مې نه کاوه چې دومره مینه وال به ومومي او اوس یې چې پښتنو لوستونکیو او اوریدونکیو داسې هرکلی وکړ ، غواړم چې دا لړۍ پسې وغځوم. هېره دې نه وي ،چې

( ارشاک او اوشاس) منظومه دهېواد نومیالي ممثل ښاغلي ممنون مقصودي په ډیره هنري ژبه راډیويي کړې ده ، چې ښایي مننه ورڅخه وشي.

پوښتنه: لکه څنګه چې ټولو ته پته ده، په پښتو کې له څو کلو راهیسې د((هایکو)) او((ټپیزې)) په نومو دوه نوي شعري ځېلونه(ژانرونه) رادود شوي دي، تاسې یې څنګه بولئ؟

ځواب: ټول پوهیږو ، چې هایکو له اره جاپانی شعر دی او موږ یې یوازې جوله راپښتو کړې یا تقلید کړې ده ، مانا دا چې موږ په پښتو کې دهایکو پیښې کوو، لنډۍ دپښتو ژبې شتمني ده ،همداسې هایکو دجاپاني ژبې شتمني ده، دلنډۍ روح پښتني او دهایکو هغه جاپاني دی ، دواړه نورو ژبو ته ژباړل کیدای شي، خو په نورو ژبو کې به یې په هماغه کیفیت ( تخلیق) که ناشونی نه وي ډیر ستونځمن به خامخا وي. ماته پښتو هایکو ګاني دلنډیو ازادو شعرونو په څیر خوند راکوي او بس ، تر دې ورهاخوا یې په اړه څه نشم ویلای. پاتې شوه دټیپزي کالب یافورم ( البته ژانر نشو ورته ویلای) دا په دې شرط چې دلنډیو اصالت او لرغونتوب زیانمن نه کړي ، یوه ښه فني زیاتونه ګڼم ، ډیر زیات به دشعري ارزښت خاوند کالب ورته ونه شم ویلای ، ځکه شعر هماغه دبنې موندنې او فکري زیږد پر مهال پخپله دیوه هنري خپلواک تخلیق په توګه رامنځته کیږي ، خو ټپیزه دټاکل شوې لنډۍ په منځپانګې پورې تړلې زیاتونه ده ، چې تخلیقي اصالت او خپلواکي

نه لري .

پوښتنه: پښتو غزل هغه ځېل یا ژانر دی، چې له مینې او مینه وړو ولولو سره تړاو لري. ایا پښتو غزل دنورو ژبو له غزل یا ورته رومانتیک شعر سره سیالي کولای شي او که نه؟ بلخوا څنګه چې تاسې له لړوډیرې غزلیزې شاعرۍ سره سره د ازاد او نیم ازاد شعر له لارویانو هم یاست، نو ایا تاسې د لویدیځوالواو بیا ایرانیانو په څېرپه پښتوکې د ازاد رومانتیک شعر، په نورو ټکو، غزل دودېدل شونی او وړنده بولئ؟

ځواب: دترلاسه شوي پښتو غزل ببلګې له اکبر زمینداوري څخه پیل کیږي چې ګڼې لوړې ژورې یې لیدلي دي ، پښتو غزل په لومړي سر کې ډیرلیریک او عشقي و، او له خپلې لغوي مانا سره سم یې له ښکلو ښځو سره د مینې او تغزل ښکلاوې رانغاړلې ، تر روښاني دورې او رحمان بابا وروسته پر پښتو غزل د تصوف او عرفان منځپانګه هم ورزیاته شوه ، خوشال بابا غزل راژوندی کړ او د ورځنیوتجربو ، مینې ، تغزل ، حماسې اند دود او فلسفي تفکر رنګونه یې ورزیات کړل ، حمید دهندي سبک ځانګړنې دتعادل په حد کې راپیل کړې او کاظم خان شیدا ، شمس الدین کاکړ ، او نورو لوړ حد ته ورسولې تر کلاسیکانو وروسته دپښتو غزل نیوکلاسیکان راغلل او په دوی کې امیرحمزه شینواري پښتو غزل ته یونوی روح وروباښه مانا داچې دمینې ، تصوف او ښکلا تر څنګ یې پښتنواله هم په شعوري توګه پرې ورزیاته کړه او له معاصرو شعري ځانګړتیاوو سره سم یې پښتو غزل ځوان کړ، نوي تشبیهات ، استعارې ، انځورونه او سېمبولونه له نویو اهنګونو او وزمي تجربو سره دپښتو غزل تنوع او رنګارنګې ډیره کړه ، ژبه پکې روڼه او پریوللې شوه ، له مانیز پلوه مېسره بیز ، رکني او یا هم بیتیزوحدت دټول غزل تر وحدت پورې پرمختګ وکړ او په غزل کې دګډې ذهني زمینې

تجربې پیاوړې شوې. دې ټولو پښتو غزل لوړې څوکې ته ورساوه . مګر مینه او عشقي تلوسه تل د پښتو غزل ترټولو لویه منځپانګه وه او ده . مینه په پښتو غزل کې داسې بریښي لکه دزرو په ګوتمۍ کې لوی دالماسو غمی چې که له ګوتمۍ څخه یې لرې کړې هیڅ ارزښت نلري ، دازیری په خوشالۍ درکولی شم چې ځوانو اوزلمیو شاعرانو اوسمهالی پښتو غزل داسې یو پړاو ته رسولی دی ، چې دسیمې دنورو ژبو له غزلیزې شاعرۍ څخه که یوه غاړه لوړ نه وي نو کم خو ترې هیڅ ندی . دابه نه هیروو چې دنورو ژبو له غزل سره دپښتو هغه توپیر په وزني او ژبني جوړښت کې دی پښتو غزل څپیز خجیز رغښت لري او قوافي یې هم خپل او ځانګړي دي ، دنورو له پورشویو عروضي کالبونو سره نه شي تلل کیدای.

ما پخپله تر غزلیزې شاعرۍ ډیره آزاده شاعري کړې ده ،که څه هم غزل مې خوښیږي او دشاعرۍ پیل مې هم له غزل څخه دی ،خو وروسته مې فکر او خیال دغزل له تنګ کالب څخه راووت او دآزاد او( ستاسو په ژبه نیمه آزاد) شعر په پراخې غیږه کې یې غځوونې وکړې . دځومره والي له پلوه کیدای شي په خپلو همزولو شاعرانو کې ترټولو ډیره رومانتیکه آزاده شاعري زما وي. درومانتیکوولولو ، عواطفو او تخیلاتو دلېږد لپاره ترټولوښه کالب ازاد شعردی ، نو که پوښتنه رامنځته شي چې غزل ولې ډیر شهرت لري ؟ ځواب به یې داوي چې یوخو غزل لرغونی دی او ډیره متني زیرمه یې خوندي ده او دوهم داچې له موسیقي سره داسې لازم او ملزوم ګرځیدلی دی چې دخپل شهرت او محبوبیت لویه برخه یې سندریز کیدو له قابلیت څخه ګټلې ده. وروستۍ مسئله یې هم دا چې پښتو ژبه درومانتیکو مضامینو دارائیې لپاره ګڼ مستعد فورمونه لري ، غزل ، چاربیتې آزاد او نور او په دې توګه دې ته اړتیا نلري چې دایراني ، اروپايي یاکومې بلې ژبې پرپلونو پل کیږدي .

پوښتنه: شعراو موسیقي د هر ثقافت په مانۍ کې بنسټیزي ستنې دي، او یو له بل سره تړاو لري. تاسې په دې اړه څه لید لری، او دا راته وویاست، چې ستاسې شعرونه کومو سندرغاړو او هنرمندانو ویلي دي؟

ځواب: شعر او موسیقي سره نږدې هنرونه دي او یو دبل بشپړوونکي هم . که څه هم هر یو په یوازې ځان خپلواک هنرونه ګڼلی شو مګر کله چې سره یوځای شي نو دبشپړ هنري اوج تمثیل کولای شي . شعر ډیرځله دموسیقي په مرسته تر خلکو وررسیږي او موسیقي دشعر په مرسته دانسانانو دپیغام ، فکر او خیال دلیږدولو توان مومي . شعر اوموسیقي دواړه دانسانانو دهنري ذوق لومړني همزولي دي او تر ټولو زاړه هنرونه ګڼل کیږي ، لکه سینما چې ترټولو ځوان هنر بلل کیږي.

زما يو شمېر شعرونه دوخت ښو سندرغاړو ويلي دي لکه فرهاد دريا ، حفيظ ګردش ، شهزاد عديل او نور چې اوس يې نومونه رانه هير دي .

پوښتنه: فلسفي، تصوفي يا عرفاني شاعري څرنګه څيړئ؟ او کوموپښتو شاعرانوپکې خپل ذوق او استعداد زيات آزمويلی دی؟

ځواب: فلسفي شاعري بېله ، عرفاني بېله او تصوفي هغه بېله ده . فلسفي شاعري هغې ډول شاعرۍ ته وايو چې په هنري او موزونه ژبه يې کوم فلسفي فکر بيان کړی وي . خو فلسفه څه ده ؟ فلسفه دګڼو پوهنو هغه مجموعه ده چې په يوه ځانګړي سکالوکې دانسان بنسټيزو پوښتنو ته ځواب وويلای شي . فلسفي افکار له پخوا څخه په شعرونو کې بيان شوي دي ، له پخوا زمانو څخه چې ادبيات ، عقايدو ، عقلي تجربي او ساينس ، فولکلور ، حماسي ، تاريخ او افساني يو له بله سره ګډ وو او خپلې پولي يې نه وې بېلې کړې ددې ټولو مجموعي پوهې ته يې فلسفه ويل او په دې پورې اړوند ګڼ مسايل دشعر په ژبه بيان شوي دي ، دزاړه مصر د ( مړيو) کتاب داسې نظمونه لري چې دانسانانو خورا لرغوني ثبت شوي فلسفي افکار رانغاړي ، دزاړه عراق افسانې ( په تيره بيا دګېلګميش منظومه ) ګڼ فلسفي اړخونه لري ، ديونان او روم اثار بې جوړې دي ، دآريانا ويدي سرودونه ، دزردښت او ستايي ګيتونه ( ګاڅونه ) دهند مهابهارت او دچين زاړه مناجات ټول هغه منظوم سرودونه دي چې دفلسفي ارزښت خاوند ادبيات يې ګڼلی شو. تر دې راوروسته په اروپا کې هم يوه دوره فلسفي شاعري دود وه چې يوه لويه بېلګه يې د دانته ( الهي کوميډي ) او يا هم د الماني ګويته ( دفاوست تراژيدي ) ګڼلی شو . فلسفه په لويديځ کې سيستماتيکه شوه ، ښوونځي يې وموندل او ورو ورو يې علمي بنسټ پياوړی شو، خو په ختيځ کې همداسې د ادبياتو ، پوهنې ، عقيدې او هنر تر منځ ويشلې پاتې شوه ، په دې توګه موږ ويلی شو چې په ختيځ کې فلسفې نه ، بلکې فلسفي افکارو ډيره وده وکړه چې لويه برخه يې په ادبياتو په تيره بيا شعر او نظم کې خوندي ده. پښتو شاعرۍ ته هم فلسفي افکاروپه تيت پرک بڼه رخنه کړې ده چې په استازيتوب به يې له کلاسيکانو څخه خوشال بابا او روښاني غورځنګ او په نيو کلاسيکانو کې به د پوهاند سيد بهاالدين مجروح او غني خان نومونه واخلم.

پاتې شوه دعرفاني او تصوفي شاعرۍ برخه ؛ لومړی خو دا دواړه مفاهيم چې ډير ځله سره همماناً ګڼل کيږي يو څه توپير لري . عرفان چې د پيژندلو له لغوي مادې څخه جوړ اصطلاحي مفهوم دی د خدای پيژندنې لپاره دانساني تجسس او پلټنې هغې هڅې ته ويل کيږي چې له بابا آدمه تر دې دمه يې درلودلې ده اودا مفهوم يو څه پراخ او کلي دی. حال داچې تصوف دټاکلو لارو او سلوک هغې عرفاني دورې ته ويل کيږي ، چې په اسلامي نړۍ پورې اړه لري . په اسلامي تصوف کې ځينې مشهورې طريقې او مکتبونه پيژنو

لکه : مولویه ، نقشبندیه ، چشتیه ، قادریه او داسې نورې. په پښتو شاعرۍ کې عرفاني افکار پریمانه او ډیر پراخ دي همداراز تصوفي شاعري هم شته چې ډیر ځله دیوې ځانګړې طریقې پیروانو رامنځته کړې پاللې او بډایه کړې ده ، په پښتو ادبیاتو کې یې غوره بېلګه روښاني دوره ده . دعرفاني او تصوفي شاعرۍ په اړه دلته دځپلې وروستۍ څیړنې یوه برخه رااخلم، که څه هم دغه بحث تر ډیره بریده په پښتو شاعرۍ کې دعرفاني سېمبولونو په اړه ده ،خو فکر کوم ستاسو دپوښتنې ځینې ځوابونه لري :

که له تاریخي مخینې یې تېر شو د څومره والي له نظره د پښتو ادبیاتو د منځنۍ دورې په شاعرۍ کې تر ټولو ډېر له عرفاني سېمبولونو سره مخامخ کېږو.

عرفان د پېژندنې له ریښې څخه اخېستل شوی دی او په اصطلاح کې د خدای(ج) د پېژندنې لپاره د انسان معنوي او روحي هڅه ده.

تصوف د وړینو جامو د اغوستونکیو (صوفیانو) له نامه سر ته رسېدلی مسلک ګڼل شوی ، داچې صوفیانو ته د هغوی د وړینو جامو یا اهل الصفه ( اصحاب صفه یا پر صفه ناست) کسان یا د غارونو (صوفونو) اوسیدونکو له امله دغه نوم ورکړل شوی په دې ډېر نه تم کېږو، په اسلامي تاریخ کې صوفیان د عرفان، زهد او عبادت هغه لارویان وو، چې پر ادبیاتو یې د پام وړ اغېز درلودلای دی.

صوفیانو، چې له هستۍ، انسان، عاقبت او نفس څخه ځانګړي تعبیرونه درلودل د خپلو افکارو د دودولو او نورو ته د رسولو لپاره ادبیاتو او شعر ته مراجعه کوله.

صوفیانو ادعا کوله چې لوی خدای(ج) ته عبادت یوازې د دوزخ له ویرې یا جنت ته د وررسېدو لپاره نه کوي، بلکې له خدای(ج) سره د مینې لپاره او په آخرت کې د خپل خالق د دیدار لپاره سعي کوي. ددوی عادتونه، ویناوې، فکرونه او باورونه کله کله د عامو خلکو یا هم د وخت د علماوو له نظره متفاوت او په ځینو مواردو کې د زغم وړ نه وو، نو د همدې لپاره دوی په خپل کلام کې ابهام، سېمبول کارونې او استعاري ویناوو ته پناه وړله، دا چې په عرفاني ادبیاتو کې سېمبولونه ډېر، ښېلا ښېل، په زړه پورې او د پام وړ دي دلیل یې همدا دی چې صوفیانو به د خپلو زړونو ټولې خبرې مخامخ او څرګندې نه شوې ویلای، دوی به مجازي دنیا د حقیقي دنیا د تمثیل لپاره جوړوله، کله کله به یې مجازي معشوقه یادوله خو مراد به ورڅخه حقیقي محبوب و، معشوقه، شراب، ساقي، زاهد، میخانه، وصال، هجران، های وهوی، قیل و قال او داسې نورو سېمبولونو به د رمز په ژبه د دوی فکرونه او غوښتنې ښکارولې.

د روښاني مکتب پلوي شاعرانو د پښتو ادبياتو لويه برخه عرفاني شاعري کړې ده، خو تر هغو پرته رحمن بابا او نور شاعران هم شته چې ګڼ عرفاني سېمبولونه يې په شعرونو کې موندلای شو.

په پښتو شاعرۍ کې د يو شمېر عرفاني سېمبولونو بېلګې به د بېلا بېلو شاعرانو له کلام سره وڅېړو.

د رحمن بابا په يوه غزل کې ځو عرفاني سمېبولونه :

دجنت تر حورو تېر شه که يار غواړې

خدای دې نقده د چا نه کاندي نسيا

د ساقي له لاسه هسې باده نوش کړه

چې دې غوځ کړي له زړه خيرې د ريا

چې يې کسب عاشقي شي د دلبرو

نظر نه کاندي په کسب د کيميا

عشق هنر د مخلصانو دی رحمانه

نه حصليږي مخلصي په روريا

يو ګفتار در لره بس کاندي رحمانه

څه په هر ساعت پوښتنه کړې بيا بيا

يار : حقيقي محبوب دی، شاعر غواړي ووايي چې د هغه مقصد حقيقي محبوب دی نه د جنت حورې هغه غواړي خپل حاضر و دايم و قديم محبوب ته ورسېږي چې نقده حضور لري حال دا چې د جنت حورې نسيا وعده ده.

ساقي او د بادې نوش کول د طريقت سېمبول دی، چې د ريا په وړاندې د شاعر د عرفاني پروتست سېمبول يې هم ګڼلي شو، هغه ځوک چې له حقيقي محبوب سره د عشق کارو بار کوي هغه د دنيا په کاروبار غرض نه لري او د (کيميا) کار چې يو دنيوي کار دی نه خوښوي. رحمن بابا د عرفان او تصوف وجودي منطق او ټول هدف په همدې ځو سېمبولونو کې بيانوي، چې نورو ګڼو عارفو شاعرانو هم تکرار کړی دی.

د ميرزا خان انصاري دا سېمبوليک غزل ولولئ :

زه څرګند د محبت په بنه بنیاد یم

له نیستۍ هم په دا هستۍ آباد یم

په ازل مې د اقرار په ژبه ووې

تر ابده وفادار په خپل میعاد یم

امانت چې اسمان ځمکې وړای نه شو

اوس يې زه په دا عاجز صورت عماد یم

په اختیار مې هسې ظلم په ځان وکړ

له دې قصده د جهول په نامه یاد یم

که د جهل بار مې لرې شي له سره

بې ګومانه د صفي آدم اولاد یم

انصاري د څو سیمبولونو په مرسته دعهدالست ټوله کیسه تمثیلوي دا له خالق ذات سره د بنده (انسان) د عشق او مینې جوهر او صفت و ، چې د هستۍ باعث شو، خدای پاک انسان ددې لپاره هست کړ چې خپل خالق یکتا و پېژني او عبادت يې وکړي. ( څرګند د محبت په بنه بنیاد) او له نیستۍ څخه هستۍ ته راتلل. انسان په ازل کې له خپل رب سره تعهد کوي چې دخپلې هستۍ تر پایه به د بنده ګۍ سعي کوي، او د لوی الله(ج) حکمت، د هغه کلام او د هغه احکام چې ځمکې او اسمان، غرونو او دښتو يې د ساتلو او زغملو وس نه درلوده انسان ( د حضرت آدم اولادې) د هغه د منلو ژمنه وکړه او دا ژمنه يې په خپل اختیار وکړه، ګواکې نه پوهېده چې دومره ستر مسؤلیت پر غاړه اخلي دلته د جبر او اختیار پېچلې فلسفې ته اشاره کوي.

زموږ متصوف شاعر میرزا خان انصاري وايي چې د صفي الله ( حضرت آدم ع) اولاد کله دومره جهول شي چې خپل ازلي عهد او پیمان هیروي. هغه عهد، چې په خپل اختیار يې کړی او د خدای(ج) د بنده ګۍ لوی مسؤلیت  يې پر ځان منلی دی. د انصاري (زه) د ټول بشریت سیمبول دی دا (زه) یوازې میرزاخان نه دی، بلکې له بابا آدمه تردې دمه له ټول بشریت څخه استازیتوب کوي دا د هماغه ګډ بشري ناخودآګاه ضمیر  غږ دی چې په سیمبولیکه بڼه د میرزاخان انصاري په شعر کې ځان څرګندوي.

د عهدالست کیسه اوږده ده خو زموږ عارف شاعر يې د یو شمېر روښانه سیمبولونو او سیمبولیکو شاعرانه اشارو په مرسته ټوله او بشپړه را تداعي کوي.

پر همدې زمکه د خوشال بابا دا درې سېمبولیک بیتونه وګورئ؛خان هم هستي د محبت او عشق له برکته بولي :

د مجاز عاشقي عین حقیقت ده

و معنو ته زینه ایښې د صورت ده

تر ثرا تر ثریا که فهم وکړې

په څلور کونجه غوغا د محبت ده

په جهان به هېڅوک نه و که عشق نه وای

د بدبه د عشق قایمه تر قیامت ده

شیرازي خواجه حافظ په خپل یو مشهور غزل کې کټ مټ د عهدالست او عشق کیسه په همداسې سېمبولونو ارائیه کوي :

در ازل پرتو حسنت زتجلی دم زد

عشق پیدا شد و آتش بر همه عالم زد

جلوه ای کرد رخت دید ملک عشق نداشت

عین آتش شد از این عزت و بر آدم زد

عقل میخواست کزاین شعله چراغ افروزد

برق غیرت بدرخشید و جهان بر هم زد

مدعي خواست که آید بتما شاګه راز

دست غیب آمد و بر سینه نامحرم زد

دیګران قرعه قسمت همه بر عیش زدند

دل غمدیده ما بود که هم بر غم زد

جان علوی هوس چاه زنخدان توداشت

دست در حلقه آن زلف خم اندرخم زد

حافظ آن روز طرب نامه عشق تونوشت

که قلم بر سر اسباب دل خرم زد

د شیخ عیسي مشواڼي لاندنیو دریو بیتونو د دریپو بېلا بېلو حالتونو د بشپړ تمثیل لپاره عجیب عرفاني سېمبولونه رانغاړلي دي، د جبر او اختیار په اړه د انسان ډیالیکتیکي وسوسه، د هګل له تیزسونو سره سم د (بادار و غلام دیالیکتیک) ،چې انسان یا بادار دی یا غلام ، یا حاکم دی یامحکوم او د همدې تنازع څخه د یوې ناپېژندل شوې خپلواکۍ په خوا ورڅکېږي، هېڅکله هم نه ور رسېږي ځکه مرګ تر ایډیالي خپلواکۍ لنډ دی او بل انسان بیا په همدې آزمویل شوې لاره مزل کوي.

انسان که له نفس سره مبارزه وکړي (نور) ته (الله نور السموات والارض) ور نږدې کېږي او که د نفس ومني، نو شیطان الرجیم ته چې له اور (نار) څخه جوړ شوی دی، میلان مومي، خاورین (خاکي) انسان د خپل ایمان، علم او اعمالو د څرنګوالي او څومره والي له نظره د نور او نار ترمنځ په نوسان کې دی.

حقیقي محبوب ته نږدېوالی یا لرېوالی د انسان په خپلو اعمالو پورې تړلی دی، دا ټول څه چې که وغواړئ مدلل یې کړئ کتابونه پرې کښلای شئ خو زموږ شاعر شیخ یې د څو عرفاني سېمبولونو په مرسته داسي بیانوي :

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې

کله بادار یم، کله مې خوار کړې

ته خو قادر یې په صفتونو

کله مې نور کړې، کله مې نار کړې

عیسي حیران دی په دې شیونو

کله مې یار کړې، کله اغیار کړې

عرفاني سېمبولونه هومره رنګین، بېلا بېل او په زړه پورې دي، چې د ټولو څېړل او سپړل یوه ځانګړې څېړنه غواړي، ځکه زما په فکر عارفو او صوفي شاعرانو تر ټولو ډېره سېمبولیکه وینا کړې ده او ددې لپاره، چې د درباري مفتیانو، زهادو، واکمنو او عامو وګړیو له ګواښ څخه په امان پاتې شي ، خپله مدعا یې په ښکلیو، شاعرانه سېمبولونو کې نغاړلې ده، د همدې لپاره د شعري سېمبولونو ډېرې غوره بېلګې عرفاني سېمبولونه ګڼلای شو.

---

.

پوښتنه: په يوه ټولنه کې چې د ګروهو(عقايدو) او فرهنګ سانسور وي، ستاسي پرآند پر شاعر او ليکوال څه نقش واغيز درلوداى شي، څه ډول مبارزه ورته په کار ده ؟

ځواب: سانسور تل موجود و، شته او وي به . دسانسور شکل او عمل بدليږي ، دسانسورچيانو مهارتونه زياتيږي او له سانسور څخه دتښتيدونکيو هنرمندانو کمالات هم بدليږي او ډيريږي ، دا يوه نه تماميدونکې مبارزه ده . هرڅوک دخپلو ګټو ، وټو او پټو رازونو دساتلو هڅه کوي ، شاعر او هنرمند چې دټولنې دوجدان اواز پورته کوي له سانسورچيانو سره تل په ټکر کې وي ، خو شعر دشعار په څېر مخامخ بيان نه دی ، ځکه يې زيان او ګواښ هم کم وي شاعران او ليکوال خپلواک خلک دي ، دوی هغه څه وايي ، چې غواړي يې او که هغه څه يې وويل چې نوريې فرمايش ورکوي يا پرې تپل کيږي بيا خو دهنر او ادبي ژمنې له دايرې وځي او کار يې ارزښت نلري. په دې توګه ګورو چې دشعر او ادب يوکمال دخپلواکه روح له چينو څخه خړوبېدل دي. سارتر به ويل هر زور ته ( نه ) ووايئ ، يوه شرافتمندانه ( نه ) له زرو ذليلو ( هو ) ګانو څخه غوره ده . هنري مبارزه يو راز لري او هغه دا چې دخومره خلکو دشعور استازيتوب کولای شئ او دخومره خلکو پر شعور اغيز کولای شئ ، دخومره خلکو شعور راويښولای شئ ؟ او دخومره خلکو انساني عواطف سيقلولای شئ ، څومره خلک دژوند ، مينې او انسانيت پر ارزښتونو باوري کولای شئ ... دادمبارزې موخې دي او وررسېدل دهنري بيان په مرسته د ګټورې اغيزې زياتيدل دي. لويه مبارزه دا ده چې موږ په خپلو خلکو کې دا پوښتنه په جوش راولو چې زموږ خلک ولې تر ټولو ډير وژل کيږي او وژل کوي ؟ موږ څنګه کولای شو دهنر او ادبياتو په مرسته دافغان انسان د ژوند اهميت او ارزښت وځلوو او ددغه انسان له ذهن و زړه او ضمير څخه کرکه و خشونت او له لاسه يې ټوپک او توره واخيستلای شو ؟ په ريښتياچې دنړۍ تر هر بل ملته زموږ رسالت او مسئوليت دروند او لوی دی او مبارزه مو جدي او اړينه ده .

پوښتنه: يو شمير شاعرانو او ليکوالو د خپلو څېړنيزو اونوښتګرو کارونو او فعاليتونو لپاره د بهرنيو ليکوالوآثاراوشعرونه ژباړلي دي. ستاسي پر اند د بهرنيو آثارو ژباړه او يا زموږ د آثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب و فرهنګ د ودې او پرمختګ لپاره څه اغيزښندلای شي؟ او دا راته ووياست چې تاسي پکې ونډه اخيستې ده او که نه؟

ځواب: ژباړه دبيلابيلو ادبي حوزو او ان فرهنګونواو مدنيتونو تر منځ دپوهاوي او ليږد پول دی، ژباړه داړيکې هغه وسيله ده چې انسانان له فکري پلوه سره نږدې کوي او دبشريت دګډې پوهنې ، فرهنګ او فکر په وده کې مرسته کوي . زموږ دادبياتو يوه لويه نيمګړتيا او تشه داده چې نړۍ ته نه دی ورژباړل شوی او نړۍ نه ده ورته را ژباړل شوې ، له هغو خورو ورو هڅو سره سره چې په وروستيو لسيزو کې شوي دي ، ځينې

اثار راپښتو شوي او ډیره کم پښتو اثار نورو ژبوته ژباړل شوي دي ، بیا هم دې برخې ته کلکه او جدي پاملرنه پکار ده. تر هغو چې دنورو اثار ونه لولو پرمختګ نه شو کولای او ترڅو خپل اثار ورونه ژباړو ځوک مو نه پیژني. مګر ژباړه یو مسلکي اوحرفوي کار دی ، چې زما پر اند ښايي یوازې یې هغه ځوک ترسره کړي ، چې صلاحیت یې لري . دهمدې منطق پر بنسټ ما ډیرې ژباړې نه دي کړې ، یوازې یوشمیر متون مې داړتیا پرمهال له پاړسي او انګریزۍ څخه راژباړلي او کله کله مې انګریزي ته ماته ګوډه ژباړه کړې او پاړسي ته هم.

دژباړې یوازینی اثر مې له اروابناد استاد اسد اسمایي سره ګډ کتاب ( دټرای ښځې ) دی ، چې د یورو پیدس شهکار ډرامه ده او ما په پښتو شعر اړولې ده .

پوښتنه: پردې سر بیره، چې په لره او بره پښتونخوا کې یو شمیر شاعران وینو ، چې د تقلید پر پله روان دي. تاسې د یو شاعر او ادبي ستې په توګه دا نیمګړتیاوې څنګه څیرئ، او په اړه یې ځوانو شاعرانو ته څه وړاندیز او لارښوونه کولای شئ ؟

ځواب: تقلید په دوه پښو ولاړ دی؛ یوه یې زده کړه ، تجربه اخیستل او ذهن ته دنورو دتجربو سپارل بله یې کاپي اخیستل او بیایې په خپل نامه خپرول ، تکرار کول ، دبل پیښې کول او یا هم په لږ بدلون دبل دفکري زیرمې بیاځلي ارایه کول دي. لومړۍ پښه یې یوازې دنورو له تجربو څخه زده کړه کول او دشعوري زیرمې پیاوړي کول کوم عیب ندی ، مطالعه او دپوهې کسب هم یو ډول تقلید دی ، چې عیب نه بلکې حسن دی او ښايي ځوانان دنورو افکار ولولي او دخپلې پوهې پانګه پرې پیاوړې کړي. خو ړوند تقلید ، کاپي اخیستل ، تکراري خبرې او دنورو دمعنوي شتمنیو غلا نه یوازې دا چې اخلاقي عیب او جرم دی ، بلکې له مخاطبینو سره هم جفا ده ځکه تکرار او هغه هم مبتذل او پریوتی تکرار دهغوی دستوماني لامل ګرځي. زما سپارښتنه ځوانانو ته داده چې په کلکه له داډول تقلید ، پیښو او غلا څخه ځانونه وساتي. دنورو اثار مطالعه کړئ ، تجربه واخلئ ، دنورو بریالیتوب دخپل ځان لپاره معیار وګرځوئ ، خو تقلید او غلا مه کوئ ، ځکه دا لاره مو هیڅ ځای ته نه رسوي، بلکې د خجالت او ملامتی کندې ته مو غورځوي.

پوښتنه: تاسې د یوه ادبي او فرهنګي ازمېښتکار په توګه، د هیواد دننه اود باندې پښتو رسنۍ، په تېره راډیویي اوتلویزوني خپرونې څنګه ارزوئ؟

ځواب: پښتو رسنۍ دشمېر له مخې بدې نه دی ، خو څرنګوالی یې لاهم له ډیرو (خو) ګانو او پوښتنو سره مخامخ دی. موږ لاهم یوښه ، ستندرد ، معیاري او په ټول پوره تلویزیون نلرو. راډیو ګانې مو تولیدي ګټور پروګرامونه لږ لري ، یوازې په موسیقي (

هغه هم لویه برخه مبتذلو سازونو ) چلیږي . ښه ستندرد ورځپاڼه لاهم نلرو ، چې هر سهار یې لږ تر لږه یو میلیون افغانان په ټول هېواد کې واخلي او ویې لولي ، مطبوعات لاهم دنورو په مرستو چلیږي او خودکفا نه دي. موږ ښې رسنۍ نلرو ځکه چې ښه او مسلکي رسنوال نلرو ، مسلکي رسنوال نلرو ځکه چې پیسې نلرو ، پیسې نلرو ځکه چې اخیستونکي او ګډونوال نه لرو او درسنیو مینه وال ځکه نلرو ،چې ښې رسنۍ نلرو موږ په همدې کړۍ کې تاوېږو خو له دې ټولو سره سره تیره لسیزه د پښتني رسنیو یوه پرمختیایي لسیزه وه ، یو لوی ټولنیز بدلون دا و چې پښتوژبه درسنیو هرې څانګې ته ورسیده ، پښتو ورځپاڼې ،مجلې ، راډیوګانې ، ټلویزیونونه ، بریښنا پاڼې ، ویبلاګونه ، فیسبوک او نور... هرچیرته پښتو شته او نور نو دا په رسنیو کې یوازې دباختر آژانس دژباړې ژبه نه ده ، بلکې اوس په دې ژبه کې هم لیکل اوهم خپریدل کیدای شي . یو شمیر نړیوالو رسنیو هم دپښتني ژورنالیزم په وده کې دپام وړ مرسته وکړه او دپښتنو رسنوالو په روزنه کې یې دپام وړ ونډه درلوده .

موږ تر هغو پورې دپښتني رسنیو هر اړخیز پرمختګ نه شو لیدلای ، چې یو ملي - علمي او عملي سیاسي ځواک رامنځته شوی نه وي او پښتانه ، بلکې ټول ملیګرا افغانان یې تر یوه چتر لاندې نه وي راټول کړې .

پوښتنه: یوشمیرادبي او فرهنګي ستې په دې ګروهه دي، چې له ((یوې- یوازېنۍ- کره لیکنی بنې)) پرته پر هېوادني او جهاني کچ پښتو د سیالۍ جوګه کېدای نه شي،که په دې اړه خپل لید را څرګند کړئ؟

ځواب: هره ژبه دخپلو ویونکیو د ټولنیز ، اقتصادي ، فرهنګي ، سیاسي او علمي ژوند له شرایطو سره سمه وده کوي. دیوې ژبې د ودې ، پراختیا ، علمي پرمختګ ، او کره کېدو لپاره داسې ملي او اکاډمیکو بنسټونو ته اړتیا شته چې خپلو طرحو ته اجراییوي امکانات هم ولري او په منظمه ښه ګام پر ګام د یوې ژبې کره - یوازینۍ او یوه لیکنۍ ښه رامنځته کړای شي. پښتانه ښایي دخپلې ژبې دپرمختیا لپاره پرلپسې ،هراړخیزه اومنظم کار او هڅې وکړي ، دژبې په اړه کار باید موسسه یی(انستیتیوشنلایز) او اکاډمیک شي او بیا دحکومت ، رسنیو ، فرهنګي بنسټونو ، پوهنیز نصاب ، او پوهنتوني ټولنې له خوا یې دسراسري کیدو او پراختیا لپاره ګډې هڅې وشي. لاتر اوسه ، پښتو ته ، په دې اړه هڅې فردي دي ، خو ښایي قدریې وشي . دبېلګې په توګه لاتر ننه زما قدرمن استاد پوهاند مجاوراحمدزیار په یوازې سر دیوې ژوندۍ اکاډمۍ په څېر کار کړی او دیوې - یوازینۍ کره پښتو لپاره یې ډیر څه کړي ، یوه برخه یې دخلکو، رسنیو او علمي بنسټونو له خوا منل شوي اودود شوي دي، دپاتې برخې لپاره یې وخت ، کار او نورو هڅو ته اړتیا

شته. چې رالنډه يې کړم ، زه ديوې کره ، يوازينۍ او بدايې ژبې پلوي يم ،خو کار ورته کېږ، موسسه يي ، له وخت او امکاناتوسره سم او په عتدال کې غواړم .

پوښتنه: د لمريزې پيړۍ په لومړيو کې چې د پښتو ژبې د ژوندي کولو او دودولو ملي او رسمي غورځنګ راپيل شو، ستاسې پراند کوموپوهانواوليکوالويي د سرخڼي لپاره له څرنګيزاو څومره پيز پلوه ځانګړې پاملرنه کړې ده؟

ځواب: داهڅه دسراج الاخبار تر خپراوي مخکې دشمس النهار دنهضت په زمانه کې راپيل شوه ، خو درواني پيړۍ په پيل کې دسراج الاخبار نهضت وپالـله ، ښايي محمود طرزي ، مولوي صالح محمد خان کندهارى ،عبدالله افغاني نويس ، عبدالرحمان لودين ، مولوي غلام محى الدين افغان او نورګڼ درانه نومونه يې په سر کې راشي ، تردوى وروسته دويښ ځلميانو دوره ده. تر دې پرته وزير محمدګل خان مومند ، علامه عبدالحى حبيبي ، محمد ګل نوري او بيا نو د معاصرو ستوريو ريښتين، بينوا ، الفت ، خادم او پوهاند رشاد نومونه يادولاى شو. ددوى تر څنګه دپښتو دمعاصرو هنري ادبياتوشاعران او ليکوال، څېړونکي اود ژبپوهنې ستوري دي: شمس الدين مجروح، بهاالدين مجروح ، الهام ، پژواک ، لايق، تره‍ى ، نورمحمد ترکى، شپون ، پسرلى ، رفيع ، ژواک، نوميالى، روهي ، هېوادمل ، زيار ، دوست اونور داسي مشران چي دلته يې دټولو درايادوني مرسته زما دحافظي له وسه وتلي ده .

پوښتنه: څنګه چي ما او ډېرو نوروته څرګنده ده تاسي د افغانستان د پوهنواکاډېمى په اډانه کې دسيمه ييزو څېړنو(مطالعاتو)د چاړواک په توګه دنده لرئ، که مهرباني وکړئ په دغه مرکز کې پرځپلو کارندوييو( فعاليتونو) يوه ځغلنده رڼا واچوئ!

ځواب: دافغانستان دسيمه ييزو مطالعاتو مرکز په ۱۳۸۵ لمريز کې دعلومو اکاډمى ترڅنګ ديوه علمي ـ څېړنيز مرکز په توګه پرانيستل شو ، دادى شپږ کاله کيږي ، چې زه يې دمسئول په توګه کار کوم، ترټولو لومړى کارمو داو، چې داسي يو مرکز جوړ کړو ، ځکه په نوره نړۍ کې داسي مرکزونه لسګونه بلکې ځيني يې سلګونه کاله عمر لري ، موږ هرڅه له صفره پيل کړل، تشکيلات، کاردود، سرچيني ، د څيړونکو روزنه، نړيوالي او ملي اړيکي ، په رسنيو کې يې پيژندګلوي ، دڅېړنيزو پروژو مديريت ، ديوبرياليي او منلي علمي درې مياشتني ژورنال خپراوى، دبريښنا پاڼي فعالول ، د ۱۷ سرليکه علمي ـ څېرنيزو کتابونو خپرول ، د ۶ نړيوالو ، ۹ سيمه ييزو ، ۷ ملي سيمينارونو جوړول ، د۳۶ کنفرانسونو ، يوه سمپوزيم او ګڼو تحليلي ناستو تدويرپه ۱۶ نړيوالو او سيمه ييزو کنفرانسونو ، سيمينارونو او سمپوزيمونوکې دافغانستان استازيتوب له دربيو هېوادنو سره دعلمي تواميت( ملګرتوب) ټينګښت . دنږدې شلو تنو ځوانو څېړونکو علمي کدرته پورته کول او نورې چارې يې يادولاى شو. ددې ترڅنګ موږ

وکولای شول په دې مرکز کې يو بډای معلوماتي ډيټابيس او يو ښه کتابتون جوړ کړو او دافغانستان دلسکلنو سيمه ييزو اړيکو کرونولوژي بشپړه کړو، تر ۴۰ پورې علمي پروژې خپريدو ته چمتو کړو او په بيلابيلو برخو کې اړوندو ځانګوته مشورې ورکړو. خو له ټولو سره سره لاهم له ډيرو ستونځو سره لاسو ګريوان يو، يوه ترټولو لويه ستونځه يې هغه بېخرته او خندوونکې بېروکراسي ده چې موږ کارته نه پريږدي او کله کله خو مو دبيلابيلو سياسي ـ سليقوي لاملونو پربنسټ دپرمختګ په لاره کې ډبرې هم غورځول کيږي .

پوښتنه: تاسې د يو ليکوال او شاعر په توګه د اوسني کړکيچنواوتراژيکوحالاتو اغيز پر ادبي او فرهنګي فعاليتونوڅه ډول ځيرئ، ليکوالو اوشاعرانوته په دې تړاو څه پيغام لرئ؟

ځواب: زه يوازې دې ته نه يم خوشاله چې ګواکې ، که کور اور واخيست نو ديوالونه يې پاخه شول ، نه داسې نه ده . سمه ده چې کړکيچ ، ناخوالو ، ولړې او جګړې زموږ پرادبي بهير ژور اغيزو کړ او دجګړې او اختناق ددوران ادبيات يې وزيږول ، خو موږ ډير څه له لاسه ورکړل. جګړې که له يوې خوا په ادبياتو کې دسولې اوميني تنده راوپاروله ، خو له بلې خوايې دسياستونو، ايډيولوژيو ، شعارونو ،مرده باد وزنده باد داسې انډوخر جوړ کړ ، چې ددوړو اوبوړبوکيو په تاو کې يې هنر، عاطفه او مينه ووژل شول ،د شعر ،کيسې او هنر پر ګېډو تورې ورننه ويستل شوې ، کاغذي اتلان يې وزيږول ، کرکه ورننوته، اور او وژنې ورننوتې ، دجګړې دواړو لوريو په دې وياړ کاوه چې خپل هېوادوال وژني ، ځوک دکافروکمونيست په نامه ځوک دارتجاعي او اشرار په نامه ،ځوک ديوې سليقې لپاره او ځوک د بلې مفکورې لپاره ... داغندنې او وهنې ادبياتو ته هم ورننه ايستل شوې اوهنر په سياست او جګړه ککړ شو . جګړه د روس او امريکا وه ، دپاکستان او ايران وه او ککړ پکې زموږ ادبيات شول. دحماسو په نامه کنځلې پيل شوې او دوياړنو په نامه پر وحشتونو افتخار کول پيل شو. له رواني پلوه دجګړې نسل له ناهيلی سره مخامخ شو ، له ويرې سره رالوی شو ، له محروميت سره يې ساه راو کاږله او له تعصب او کرکې سره ځوان شو . ټوله ورځ يې په غوږ کې ټوپک او توپونه وګړزول شول او شپه يې ترغوږه وير اوساندې زمزمه شوې. دجګړې نسل مينه هېره کړه ، ځکه مينه (ګناه) وبلل شوه ، دجګړې نسل دميني او عاطفې پر ځای وژلو ته وهڅول شو او په دې توګه ، هنر چې دعاطفې او مينې بچی دی ، نيمګړی ( ناقص ) وزيږيد. دجګړې دکلونو شاعر او ليکوال ،چې دمحروميت همزولی و، مخاطب نه درلوده ، هيچا يې شعر ته دخوند لپاره غوږ نه نيوه ، دشاعر مخاطب شاعر پاتې شو او دکيسه ليکونکې ستايونکی ليکوال و.

وړيو ، غمځپلو او محرومو خلکو ، ولسونو او ټولني له هنري ادبياتو څخه د خوند اخيستلو وس ، توان او حوصله نه درلوده ... خو له دې ټولو سره سره شعر زيږيده ، کيسه ليکل کيده اومشاعرې رواني وې ، دلته او هلته ټولکې اومجلې خپريدې . همدې محروم شاعراو ليکوال ناڅاپه ټولو دروغجنو وياړونو ته شا کړه ، پر کاغذي اتلانو يې تو کړل اودجګړې مخ ته يې دکرکې ايرې وشيندلې ، له جګړې څخه ستومانه افغان شاعر اوليکوال دخپل تاريخ په کنډوالو ورننوت او ترويجاړو شويو ديوالونو لاندې يې دميني ، عاطفي او ښکلا ماتې شوې پژې ( مجسمې) راوويستې او دزړونو په دالان کې يې کيښودې ، له جګړې څخه سوزيدليو زړونومينه پيل کړه ، ساندې يې ياکوربان کړې او په وروستيو کلونو کې يې وينې څښونکي جګړه ماران سنګسار کړل ، ويې وژل ، ويې شرمول، دومره دميني او عاطفي ياکوربان او يره ځار يې سر کړل ، چې وژونکيو او لوټونکيو ته ځانونه ځناور ښکاره شول. دا وه دجګړې دنسل دادبياتو برخليک ، لوړې ژورې او بدې و ښې ورځې. خو ستا دپوښتني بله برخه ( ليکوالو او شاعرانو ته زما پيغام) ، په زغرده يې وايم ، چې دوی بايد په ادبياتو او هنر کې دميني او عاطفي ساه بېرته پوکړي ، دوی بايد ددې هېواد دولسونو وژل شوې عاطفه بېرته راژوندۍ کړي ، دوی بايد افغان انسان ته پيغور ورکړای شي ، چې ولې وږی دی ، ولې پلورل کيږي، ولې يې ښوونځی سيزل کيږي او ولې لاهم ناولی ټوپک ناموس ګڼي ؟؟؟ شاعر بايد دبورې مور کريکه داسې لوړه کړي ، چې دهغې دزوی وژونکی له ډيره شرمه او دګناه له ويرې ځانوژنه وکړي ، شاعر بايد دومره مينه وکړي چې دکرکې استازي خپلې چړې په خپلو ګېډو ننباسي او جګړه ماران دتاريخ په ډيران کې خښ کړي ، زموږ احساسات او عواطف بايد وتوږل شي ، له خيرو پاک شي موږ ته بايد شاعر او هنرمند مينه کول رازده کړي او دجګړې او وژنو په وړاندې مو ودروي ، دا زموږ برخليک دی او داوياړ به زموږ دشاعر او هنرمند ، ليکوال او فرهنګي په برخه وي. موږ دناوليوسياسيونو او جګړه مارانو دکرکې په زماني محکوم کړي يو شاعر او هنرمند به مو دميني ، عاطفي او پوهې زماني ته بيايي ، دی مجبوره دی او زه يې وينم چې زموږ لاس نيسي او له دې دوزخ څخه مو باسي.

پوښتنه: په پای کې مهرباني وکړی د خپل ادبي او فرهنګي ژوند خوږې او ترخې خاطرې راسره شريکې کړئ؟

ځواب: مين وم ، مينه مې زلمې وه ، نه ! ماشومه وه ، معصومه وه او خبرې مې ماشومې سندرې وې ، وزن به يې مات و، قافيه به يې ورانه وه خو ديوه زلمکي دميني شعرونه وو... لومړني شعرونه مې په ۱۳۶۵ کلونو کې زلميانولپاره په خپريدونکيو مجلو کې خپريدل، له شعرونو وروسته مې لومړني طنزونه په ۱۳۶۹ لمريز کې چاپ شول ، په وړو وړو مشاعرو کې مې ګډون کاوه ،خو ( دې ليونی دنيا ته هغه ورځ راغلم ) چې

اروابناد اسحاق ننګیال مې دشعرونو په توررنګي دفتر ولیکل : دې لیونۍ دنیا ته دې قدم مبارک شه ! ودا د۱۳۷۳ کال دپسرلي یوه سوې ورځ وه ، داسې ورځ چې کله مې د ننګیال په نیمه ورانه شوې جونګړه کې دهغه په وړاندې ګونډه وهلې وه ، ځو توغندي شاو خوا ولګېدل او د وران چت خاورې یې پرموږ دوه شاعرانو راوشیندلې ،
دلیکوالودټولنې له انګړه بهر شور ماشور و ، ځو ماشومان یو دوه ښځې او ځوانان په خاور وینو کې شتېدل او ماوننګیال دشعر په اړه خبرې کولې ، ورځې تیرېدې او توغندي او مړي ډېریدل او زما شاعري هم مخ په لوړه تلله ،یو مهال مې دفلسفي ، اروا پوهنې او نړۍ ادبیاتو زدکړه له اروابناد استاداسد اسمایی څخه پیل کړه، پینځه کاله مې ورته ګونډه وهلې وه سمه شاګردي مې کوله ،نه دپوهې یوه ښکلې غلا مې کوله. استاد ته خو په دې هم ګران وم ، چې په خبرو یې پوهېدم دهغه استاد خواشیني دا وه چې ځوک یې په خبرو نه پوهېدل یا یې نه اورېدې یا لیونتوب ورته ښکارېدې ، هغه په فلسفي اسد او ان په لیوني اسد هم مشهور شوی و، او ده به ورته خندل ...خو استاداسد هم پاتې نه شو ، له هېواده ووت او بیا پسې له نړۍ هم وکوچېده . یو مهال مې د ادبي فنونو، زړو ژبو او تاریخ زده کړه له اکاډمیسن پوهاند عبدالشکوررشاد څخه کوله ، فیض مې ترې اخیسته خو داځل زه ترې مساپرشوم او چې راتلم نو فاضل استاد مې له مخه ښې پرته تللی و.
په دې کلونو کې مې شعرونه چاپ شول ،وروسته مې کتابونه خپاره شول ، ونازول شوم ،غونډې یې راته ونیولې ، دادبیاتو په نړیوالو فیستیوالونوکې مې ګډون وکړ، په لندن ، ویرجینیا ، نیویارک، ډهلي او دوبۍ کې مې هرکلی وشو .... همداسې په بره تلم ، خو ملنګ ننګیال نه و، استاد اسد او استاد رشاد تللي وو، چې داهرڅه یې لیدلي وای، ډیرهېوادوال وژل شوي وو، ډیر ژوبل وو، ډیر له هېواده وتلي وو، هېڅ پرمختګ خوند نه راکاوه.

... یوه ورځ بیا مین شوم ، پر یوچا ډیرګران وم، ماهم ډیره لیونۍ شاعري ورته وکړه ، هرڅه مې وویل ، هېڅ مې پټ نه کړل ،دهغې او پرخپل ژوند مې اوربل کړ... مات شوم ، هېره مې کړه ، هېر شوم ، سوز او ګداز مې اسمان ته پورته شو ... شعر مې هم وسوزید ... نوروته یې خوند ورکړ خو زه .... همدا مې دشاعرۍ خاطرې دي .... ته یې په ډیر څه ومنه .

## په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیرعبدالقادرمسعود